آریانا افغانستان آنلاین
http://www.arianafghanistan.com

سلطان جان کلیوال ۲۰۱۸/۰۸/۰۴

# دا څلور افغان قومونه!!

یاد ونه : دا شعر می په ۲۰۱۷ کال لیکلی وه، خود نشر جرئت می ونه کړ. دلته می د یوه ملګری یوه ویډیو ولیدله چی عین مطلبدی نوما هم جرئت وکړ نشروم یی. خو هیله می داده چی دا تش زما احساس و، راته په قهر نه شی، مننه.

## دا څلور افغان قومونه!!

دا څـلـور افغان قومـونه   دی درانه لکه دا غرونه
یـو پـه یـو درتـه وښایم   نن دی هر کلی ته بیایم
دی قومـو سره آشنا شه
خبردار یی په رښتیا شه

اول لوی قوم د پښتون دی ـ حال یی ټولو، نه زبون دی
د تعلیم سره جوړ نه دی ـ خوار په ګیډه هم موړ نه دی
ټول تاریخ یی جوړ له جنګ دی ـ سر یی ایښي تل په ننګ دی
پردی نه پریدی خپل کورته ـ تسلیم نه دی د چا زور ته
لـوی چنګیز یی زغلولی ـ ستر انګریز یی ځملولی
د روس ملایی کړه هم ماته ـ امریکا تښتی سبا ته
څه عجیب غوندی مخلوق دی ـ هم په حق هم بی حقوق دی
نه په بل باندی تیری که ـ نه منې تیری د بل
نه کوم بوټی د اغزی دی ـ نه کوم بوټی دی د ګل
په خپل منځ کی دښمنۍ ته ـ دی جوړ شوی تربګنۍ ته
نه یی مشر نه یی سر شته ـ نه یی پوځ نه لښکر ښته
هریو خپل ځانته پاچا دی ـ که ملک دی که ګدا دی
سر ټیټی نه لری کرکه ـ که چا وکړه ورته سپکه
نو یاغي شي لیونۍ شی ـ کلی پریدی سارانۍ شی

بیا هم ځان په کانو ولی ـ هم جهان په کانو ولی
نه د مور خبره اوری ـ نه د پلار خبره اوری
نه د زور خبره اوری ـ نه د یار خبره اوری
هم خپل کورسیزی په اورکی ـ هم خپل گور سیزی په اور کی
د انسان پکی یو خوی شته ـ چی پیسو باندی خرڅیږی
د پنځو روپیو د پاره ـ ټول جهان سره جنگیږی
په تبلیغ د ملایانو ـ د هرچا نه ډیر غولیږی
**خو ځوان نسل یی بدلیږی ـ ورځ تر بلی نژدی کیږی.**
-------
دویم لوی قوم د تاجک دی ـ چی وجود باندی نازک دی
په مخ پاک زړه یی ناپاک دی ـ د ژوند کار کی هم چالاک دی
مکاری کی لوی استاد دی ـ له هر چانه یی فریاد دی
د تعلیم د ښمنی نه کا ـ یو تر بل تربگنی نه کا
له دی نورو افغانانو ـ ځان هو ښیار ورته ښکاریږی
چی قدرت ته پری رسیږی ـ په هیڅ کار هم نه شرمیږ
یو شیبه کی دومره خوړ شی ـ خم و چم شی سم او کوږ شی
په خبرو دومره پوست شی ـ جوړ د سلو کالو دوست شی
چی مطلب کاندی تر لاسه ـ نور پوره شی بی اخلاصه
نه دایم د چا دوستی کړی ـ نه تر عمره دښمنی کړی
ورځ کی دوه واره بدلیږی ـ په رمزونو ښه پوهیږی
مهارت لری هوښیار دی ـ تل ملگری د بادار دی
هر قالب کی جوړوی ځان ـ خپل مطلب ته رسوی ځان
نه ښادی باندی خوښیږی ـ نه په غم د چا زوریږی
چی خیریت وی د ده ځان ته ـ خیال یی نشته بل انسان ته
که څوک مری که څو سوزیږی ـ که څوک چور که تالا کیږی
لاس به ور نکړی د مرستی ـ که ډوبیږی که غرقیږی
فلسفه د تاجک داده ـ چی ځان ساته که هوښیار یی
د بل چا په غم کی نشی ـ د چا زوی که د چا پلار یی
**خو ځوان نسل یی بدلیږی ـ یو تر بله نژدی کیږی.**
------
دریم قوم د هزاره دی ـ در په در دی آواره دی
خواریکښ لکه میږی دی ـ خو هر چاته خوار پردی دی
قواره یی ده معلومه ـ وړی سترگی پیتی پوزی
نه به در شی ستا کاله ته ـ نه به تا ځا سره بوزی
کوی ژوند افغانستان کی ـ هگی اچوی ایران کی
لوی مرکز یی دی بامیان کی ـ مرکزی افغانستان کی
ته به وایی بل هیواد دی ـ ژوند یی ټولو نه برباد دی
لاهم اوسی مغارو کی ـ ډیر د سمڅو په کورو کی
سخت قایم په خپل مذهب دی ـ لوی واړه یی با ادب دی
په ظاهر کی مهربان دی ـ خو په زړو کی حرامیان دی
ورته ښکاری افغانان نور ـ ټول د مخی دښمنان نور
وایی مونږه مزدوران یو ـ د هر چا خدمتگاران یو
درباریانو یو زېلی ـ رنگ په رنگ یی کړولی
نن له هرچانه هوښیار دی ـ ټول د پوهی طلبگار دی
لری ډیر عالی کدرونه ـ زده یی دی ټول مسلکونه
په تیزی په مخ روان دی ـ زحمت کش دی هوښیاران دی
آفرین یی په همت شه ـ آفرین یی په زحمت شه
یو مشکل دی ورته پاتی ـ که په حل یی بریالی شی

د افغان په لوی کاله کې ـ به تر هرچا نومیالی شي
مشکل دا دی چې مشران یې ـ صادق نه دي خائینان دي
خرڅوي دوی په پردیو ـ د سرو سودا گران دي
که پیدا دغه جرئت که ـ چې ځان خلاص له دې آفت که
بیانو دوی قهرمانان دي ـ د دې لوی ملک مالکان دي
**ټول ځوانان یې هوښیاران دي ـ د تعلیم په لار روان دي**
------
ځلورم قوم ازبکان دي ـ هم تر څنګ یې ترکمنان دي
دوی له ټولو خوارو زار دي ـ ډیر بیکاره بې روزگار دي
لاس تړلي وزر ماتي ـ دي د ژوند له چارو پاتي
که زعیم پکې پیدا شي ـ میله ئې شي نشه یې شي
د خپل ولس په زوریدو کې ـ له هر یو جوړ «شیباني» شي
نه مکتب شته نه تعلیم شته ـ لاس کې توره ده ټوپک دی
سر وهلو ته تیار دی ـ که سپین ږیری که هلک دی
هزاره باندې حملې کا ـ په پښتون باندې حملې دي
په تاجک باندې گزار دی ـ په ژوندون باندې حملې دي
کله یو سره ملگري ـ کله بل سره دوستي که
پروني دښمن یې دوست شي ـ دوست سره پیل دښمني که
که یې مشز ورته و وي ـ چې چاوړي درنه غوږ دي
غوږ ته لاس نه وړي اوزغلي ـ یوه چیغه ده یو غږ دی
نه تمیز او نه شعور شته ـ بې شعوره بنیادم دی
د رهبر په زولنو کې ـ بند له پیله تر دې دم دی
د خلاصون چاره یې نشته ـ تر قیامته که دا حال وي
که بدلون ځان ته ور نکړي ـ تل ککړ به په جنجال وي
**خو ځوانان یې بیداریږي ـ ورځ تر بلې هوښیاریږي.**
------
د دې ملک ټولو قومو ته ـ ډیره ښه مشوره داده
چې راټول شي سره واړه ـ شي یو بل ته ور تر غاړه
څو سالم مشران پیدا کړي ـ چې تکیه په ملت وکړي
تغیر ور کاندې دې حال ته ـ اراده او همت وکړي
جوړ دا وران افغانستان کړي ـ او سر لوړی لوی افغان کړي.

اگست / ۲۰۱۷ تورنتو ــ کاناډا